شهسوارسنګروال ۲۰۲/۱۱/۰۹

# د ډيورنډ، د موافقه ليک بشپړ انځور

## له اميرعبدالرحمان خان نه ترطالبانو

### لومړۍبرخه

دا چې په ۱۸۹۳ کال کال د ډيورنډ موافقه ليک د اميرعبدالرحمن او د بريتانوي هند له استازي ډيورنډ سره لاسليک شو، څو لاملونه يې د پام وړ دي :

۱--- په دې وروستيو کې يوه انګريز تاريخپوه ډيويډ لاين د امير په تړاو داسې کښلي دي:

" په عبدالرحمن خان، برتانويانو دومره فشار راوړی وه، چې له مخې امير ته پښې نه وې پاتې چې پرې درېدلی وی، مجبور وه، چې په سر ودرېږي." دبېلګې په توګه :

- په کرښه د ۳۰ زره څواکونو ځاى پر ځاي کېدل.

- په ميچنی کې مذهبي او قومي تاوتريخوالی.

- د شينوارو او اتمانزيو جګړې.

- په بدخشان کې د شغنان او روشان ستونزه.

- په راولپنډی کې د سردار محمد ايوب خان شتون.

۲. بيا هم د موافقه ليک پر وړاندې غبرګونونه را پورته شول:

- په وانه کې د مسېدو پاڅون چې د انګريزانو پوځي چونۍ يې وسوځوله.

- د وزيرستان د خلکو جرګې ډيکټيا له والي سردارګل احمد خان سره وليدل اوورته وې وېل موږداکرښه نه منو!

- د ملا نجم الدين اخون زاده په مشرۍ پاڅون.

- په ۱۸۹۴ کال کې د عمراخان جندول غبرګون.

- په ۱۸۹۵ کې د وزيرستان د خلکو بريد.

- دا چې د دې کرښې په تړاو ټولپوښتنه نه ده شوې اوس هم نه کېږي.

۳. د برتانوي هند واکمن کرزن امیر حبیب الله خان وګواښه چي پر ۱۹۰۵ کال د ډیورنډ تړون، بیا لاسلیک کړي.

- کله چي موافقه لیک ګونګ وي نړیوال حقوقي ارزښت نه لري لکه فرنتیرلین Frontierline، باونډری لین Boundoryline، بارډر لین Borderline او د کنترول سیمه.

۴. ډګر جنرال فیض محمد خان هغه مهال په خوست کي دنده درلوده په ۱۹۴۶ کال د وزیرستان شاوخوا سیمو نه خلک راغلل ورته وې ویل، چي موږ د انګریزانو په چوڼپیو افغان برغونه هسک کړیدی، راشئ خپله خاوره خپله کړی.

هغه وخت دفاع وزیر علی احمد خان وه، هغه وویل موږ دغه مسأله په دیپلوماتیکو هڅو حلوو.

۵. د پوهني وزیر نجیب الله په ۱۹۴۷ کال په یوې رادیوي وینا کي وویل، چي له ۱۹۳۱ نه تر ۱۹۳۴ پورې څو واري بریتانیه څخه وغوښتل شول چي بیله شوي خاوره ورکړي.

۶. محمد هاشم خان په ۱۹۴۵ کال د وزیرانو شورا کي یوه پنځه فقره ییزه مصوبه وکښله چي بیله شوي خاوره وروسپارل شي.

۷. شاه محمود خان امریکا ته په لاره په ۱۹۴۷ کال لندن کي له برتانوي چاراواکو سره ولیدل، د پاکستان د جوړیدو اوازې وې، ده خپل سیال ته وویل، د دوی خاوره باید ورکړ شي.

۸. محمد نعیم خان د جون په میاشت کي ۱۹۴۷ کال په کابل کي د بریتانیا سفیر بهرنیو چارو وزارت ته وغوښته او ورته وې ویل له افغانستانه بیله شوی خاوره موږ ته وسپارئ.

۹. ګاندی وویل د جغرافیي په بدلون موافقی له مینځه ځی... هند هغه تړون لغوه کړ چي له ۱۹۴۷ کال دمخه بریتانیا سره لاسلیک شوی وه

( وګورئ د ازادی تړون ۷ مه ماده او دریمه فقره)

۱۰. د افغانستان ملي شورا( ۷ مي دورې) او لوی جرګي په ۱۹۴۹ کال ټول تیر تړونونه لکه د هند په څیر لغوه اعلان کړل.

مثال: کله چي د ضیاءالحق په وخت اغاشاهی له وحیدالله عبدالله نه وغوښتل چي د تړون په رسمیت وپیژنی، نو هغه ورته د همدې لوی جرګي خبره وکړه، دغه مهال داود خان هم پاکستان کي وه.

۱۱. کله چي پاکستان جوړ شو په ملګرو ملتونو کي( ۱۹۴۷ کال) د افغانستان استازي عبدالحسین عزیز مخالفت وکړ او ایران د بلوچستان په سیمه کي له پاکستان نه ۳۰۰ میله مربع ځمکه بیله کړه چي د انګریزانو په وخت کي لکه د ډیورنډکرښي په څیر بیله شوي وه.

۱۲. پاکستان څو واري له امریکا او ملګرو ملتو نه غوښتي چي په کشمیر کي د دوی او هند تر مینځ مینځګړیتوب وکړي، ولي د ډیورنډ د موافقه لیک په تړاو دغه خبره نه کوی. ولي د محمد رضا په منځګړیتوب دوالفقاربوټو او سید قاسم رشتیا او اعتمادي تهران ته لاړل خو بوټو دویم ورځ غونډه ترک کره.

۱۳. په ۱۹۴۰ کال د دربار وزیر احمدشاه جان له برتانوي هند سره یو تړون لاسلیک کړ، چي افغانستان کولی شي د کراچی له لارې سوداګریزه توکي ولیږدوي، خو کله چي پاکستان جوړ شو، دغه تړون لغوه شو، او پاکستان وویل اوس موږ خپلواکه یو، تاسو دغه تړون له بریتاني سره لاسلیک کړی.

د ډیورنډ په تړاو د بهرنیانو څرګندونی

۱ـ پخپله ډيورنډ پخپل کتاب د ډيورنډ بيګرافي کي ليکلی دي بيلي شوي سيمي د کنترول سيمي دي( ۲۱۷ مخ)

۲- جی بی تيت هم په خپل کتاب Kingdom of Afghanistan کي کښلی دي، دغه کرښه يوازې داميردواک قلمرو په ګوته کوي ، کوم رسميت نه لري.

۳- ويليم بارتن او توماس هولدوک د جی بی تيت د خبرو پخلی کړيدی او سايکس په History of Afghanistan نومي کتاب کي کي ليکلی دي ، ددې کرښې موخه دا نه وه چي د هند پوله را وړاندې شي ...

« ايکولی »او «فرانسوا » د نړيوالو قوانينو له مخي کارې ،کله چي جغرافيه بدلون مومي،تير موافقه ليکونه هم خپل قانوني ارزښت له لاسه ورکوي.

۴- د ويانا په نړيوال کنفرانس کي چي په ۱۹۶۹ کال جوړ شو په ۵۱ ماده کي راغلي دي، هغه تړونونه چي د زورور او کمزوری، استعمار او مستعمره هيوادونو ترمينځ لاسليک شويدي حقوقي ارزښت نه لري.

۵- د ملګرو ملتو د منشور په ۵۳ ماده کي د دې خبرې پخلی شويدی. د پاکستان ريفرانډم جعلي و او له بلې خوا دغه خاوره د ريفرانډم پر بنسټ نده بيله شوې، ريفرانډم کي بايد دواړه غاړه ولسونه برخه واخلي.

۶- د هند تاريخپوه کلديپ نيرپخپل کتاب Behind the lines کي وبلی چي په ۱۹۶۵- ۱۹۷۱ کلونوپه مهال دپاکستان اوهند په جګړوکي هنددافغانستان له پاچا محمد ظاهر شاه نه وغوښتل چي تاسو لوې افغانستان جوړ کړئ او موږ به لوې هند ،خو ظاهر شاه و نه منله.

۷- نيويارک ټايمزپه ۱۹۶۲کي کښلي دي چي ظاهرشاه له کنيډي نه وغوښتل چي پاکستان سره دډيورنډ کرښی موضوع په حل کي مرسته وکړي.

ددې ټولوڅرګندونوموخه داده ، چي دډيورنډکرښه نړيوال حقوقي اوقانوني ارزښت نه لري اوبيله شوې خاوره دافغانستان دجغرافيې برخه ده .

حقيقت دادی چي له دويم نړيوالي جګړې وروسته دبريتانياصدراعظم چرچل اودهندوايسرای لارډيټن ووېل موږ دهند نيمي وچي يوې ټوټي څمکي ته ضرورت لرو... نوبيا يي پاکستان دهند اوافغانستان په خاوره جوړ کړ .

ډيورنډکرښي په تړاو ،

د محمد رضا شاه مينځګريتوب

د ايران په مينځګريتوب د ډاکټر محمد يوسف د صدارت په مهال سيد قاسم رشتيا چي نوراحمد اعتمادي هم ورسره په سفر کي ملګری و،ايران ته لاړل.

د پاکستان له لوري د ذوالفقار علي بوټو، چي هغه مهال د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت چارواکی وه، له يوه پلاوي سره ايران ته ورسيد.

(سره ددې چي په ملګرو ملتونو کي د معين او نا معين تړونونو په نوم اسناد شته او ډيورنډ په نامعين رديف کي دی)

په تهران کي د ايران د بهرنيو چارو وزارت د اجندا په سر د دواړو غاړو له استازو سره خبرې اترې وکړې.

په اجندا کي د پښتونستان مساله هم وه، خو پاکستان دايران نه خپل پلاوی وغوښت او خبرې و نه شوې.

موږ کتابونه جوړ کړل او کتابونو موږ جوړ کړو... دتاريخ ددغه اصل له مخي ذولفقارعلي بوټوفکر کاوه ،چي زما دغه تېښته به ما له تاريخ نه پټ کړي،خوتاريخ دغه خبره پخپله حافظه کي خوندي کړې ده.

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

د ډیورنډ کرښي په تړاویوبشپړانځور

د افغانستان د اوسنیو پولو په ټاکلو کې د روسانو او انګریزانو استعماري موخې ټاکوونکې وې.

۱. د ډیورنډ د موافقه لیک په برخه کې هیڅ ډول بشري، جغرافیوي او نړیوال حقوقي ارزښتونه په پام کې نه دي نیول شوي.

۲. شاه محمود خان په ۱۹۴۷ کال د جولای په ۳۱ د بریتاني د بهرنیو چارو وزیر ته د خپل حکومت دریځ وړاندې کړ.

۳. د پاکستان له جوړیدو وروسته افغان استازی نجیب الله "توروایانا" له جناح سره یوه موافقه وکړه چې د ازادو قبایلو سیمه له بلوچستان بېله شوه، ولې له جناح نه وروسته نوی ولسمشر خواجه نظام الدین دغه تړون لغوه کړ.

۴. د افغانستان د ۷ دورې ولسي جرګې ۱۹۴۹ کال د ډیورنډ تړون لغوه کړ.

۵. کوم تړون چې لاسلیک کېږي باید:

الف: باید دواړه غاړې د هېوادونو په کچه باصلاحیته استازی وي.

ب: په ملي او نړیوالو قوانینو برابر وي.

ج: نړیوال تړونونه باید په پا رلمان کې تصویب شي.

۶. که افغانستان کې پارلمان نه وو، خو لویه جرګه خو وه...

۷. آیا ډیورنډ موافقه لیک کې له انګریزي متن سره مل نقشه لاسلیک شوېده؟ ځکه نده شوې چې امیر ملاحظات درلودل.

۸. ددغه موافقه لیک پر وړاندې د خلکو غبرګون...

۹. افغانستان یو تحت الحمایه هېواد وو چې کورنۍ چارې خپله اداره کولې او بهرنۍ چارې د استعماري هېواد له خوا اداره کېدې.

۱۰. د ویانا نړیوال کنفرانس په ۶ ماده کې یوازې یو خپلواک هېواد تړون د لاسلیک کولو صلاحیت لري. نه تحت الحمایه هېواد.

مثال: د کمبودیا هېواد په ۱۹۹۱ کال د فرانسي تحت الحمایه وو، فرانسې د حامي دولت په توګه له تایلنډ سره تړون لاسلیک کړ.

۱۱. بریتانیا او تزاري روسیې په ۱۸۷۳، ۱۸۷۷ – ۱۸۹۵ کلونو کې د افغانستان د پولو په ټاکنه کې ټاکونکی رول درلود.

۱۲. د ۱۹۶۹ کال د کنوانسیون په ۵۳ ماده کې راغلي هغه تړونونه چې د نړیوالو حقوقو سره سم ندي قانوني ارزښت نلري.

۱۳. هغه څوک چې موافقه لاسلیک کوي د هغه ازاده اراده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۱۴. په ۱۹۶۹ کال د کنواسیون په ۵۰ ماده کې راغلي دي که چېرې د موافقي د لاسليک کوونکو د آزادي ارادي سلبول رامنځته شي د تړون اصوليت تر سوال لاندې راځي.

۱۵. د ۱۸ لکو روپيو ورکول په کومه مانا ده؟

۱۶. د کنوانسيون په ۵۱ ماده کې راغلي کوم تړونونه چې د ګواښ له مخې لاسليک شوې وي ارزښت نه لري.

۱۷. په ۵۲ ماده کې بيا دغه تړونونه د منشور له مخې لغوه اعلان شويدي.

۱۸. د مثال په ډول: په ۱۹۰۵ کال جاپان کوريايي استازی دېته اړ کړ چې يو تحت الحمايي تړون لاسليک کړي په ۱۹۴۵ کال د جاپان له ماتې وروسته تړون هم باطل شو.

۱۹. په ۱۹۳۹ کال د مارچ په ۱۵ د چکوسلواکيا ولسمشر "هاشا" د هټلر تر فشار لاندې د تحت الحمايه تړون له مخې "بوهم" المان ته وسپاره، د المان له ماتې وروسته تړون له منځه لاړ.

۲۰. په ۱۹۶۱ کال کمبوديا د فرانسې تحت الحمايه وه جاپان په فرانسې فشار راووړ يو تړون پرې لاسليک کړ.

۲۱. د ويانا کنوانسيون (۱۸۷۸ کال) په ۱۵ ماده کې په عادي حالاتو کې يو دولت د بل دولت په ځای ونيسي، د هغه د ميراث مستحق ګڼل کېږي. ولې پاکستان په عادي حالت کې منځته ندی راغلی.

۲۲. کله چې د تړون يو اړخ له صحنې څخه ووځي تړون باطل کېږي.

نوټ: په څنو تړونونو کې يو هېواد د ضمانت په توګه د تړون د دواړو غاړو ضمانت کوي، خو ډيورنډ تړون کې شتون نلري.

اوس که ته د چرسو لپاره څه راکوې ، راکړه کنه در نه ځم.

هغه روپۍ ورنکړې ترې لاړ، خو دی ورپسې شو... ګوري چې يوه کلي کې واده دی ،له يو چا د وريځو غوری چپه شو.

چرسي کيناست وی خوړلی، نو بيا يې سترګې په هغه سړي ولګيدې اوورته وې ويل : ودې ليده چې روزې راته الله راکړه. . .نور کله يې په عزت راکوله خو اوس را نه لړ خوابدی شويدی.

د ډيورنډ SOP ډرامه

نن ټکی آسيا (۳ شنبه وري ۸ مه ۱۳۹۵ کال) ، « د ساحوي همغږۍ په محل کې د نويو پوستو جوړول او د دفاعي تاسيساتو پراخول دوا ردمخه اطلاع او دواړو خواوو د همغږۍ په اساس ترسره کېږي.»

دا د افغانستان او پاکستان ترمنځ د SOP تړون د شلمې مادې متن دی، چې په ډيورنډ کرښه د تاسيساتو د هوکړې په اړه د دواړو لوريو له خوا هوکړه شويده چې د افغانستان له لوري حنيف اتمر لاسليک کړيدی.

ددې تړون په ۲۰ ماده کې راغلي دي:

۲۰ ماده نوي تاسيسات چې پورته يې يادونه وشوه، ورپسې "۲۱" ماده کې لولو: "د شته تاسيساتو بيا رغاونه او پراختيا :

دغه عمليه يوه اونۍ وړاندې د اطلاع په صورت کې د دواړو خواو ترمنځ صورت نيسي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

دا عملیه د حفاظت او ګډو ګټو په برخه کې وي، مخالفت نه ورسره کیږي، خو بیارغاونه او توسعه باید د دواړو خواو جغرافیوي حاکمیت نقض نکړي. ( د ډیورنډ د کرښې نوم ندی اخستل شوی. سنګروال)

نو ځکه خو پر همدې بنسټ سرتاج عزیز ووېل: دوئ پخپله خاوره کې تاسیسات کوي د چا اجازې ته اړ ندي.

د حکمت کرزي په مشرۍ چې کوم پلاوی پاکستان ته تللی وه، ووېل: په ډیورنډ تاسیسات د همدغه sop تړون له مخې جوړیږي. دا هوکړه له پاکستاني چارواکو سره شوېده.

نوټ: فاروق وردګ ووېل چې پدې تړاو ۷۰ میلونه ډالر اخستل شوي دي !؟

که څه هم دفاروق وردګ پښه هم پخپله پایڅه کې بنده وه اوله دې وېرې نه چې اشرف غني دخیالي ښوونځیو خبره وڅیړي ،نو هغه یې په دې وګواښه !!

دډیورنډ په تړاو،حنیف اتمر...

داسي انګېرنه وه چې د ملي وحد ت حکومت پاکستان سره داسي یوه موافقه لاسلیک کړي چې ګنې د ډیورنډ کرښې ته ګواښ دی...( افسوس ، تاریخ ګټل د ډارنوخلکو کار ندی، هر سیاست پوه باید خپل ژوند په څو برخو ووېشي، خوتش په نوم دملي یووالي حکومت ددې جوګه نه وو.)

ولې په دې برخه کې وروسته څرګنده شوه چې دغه موافقه لیک پدې مانا وه چې که پاکستان تاسیسات جوړوي باید له صفري کرښې سل متره لرې وي.

کله چې اشرف غني نوی واک ته ورسېد پاکستان کوښښ وکړ چې لاس پرې تېر کړي او داسي یو سند پرې لاسلیک کړي چې د ډیورنډ کرښې ته د اوږو پزه کېږدي.

خو کله چې کرزي ددې موضوع له مخې پلو پورته کړ اواشرف غني تر شاشو، نو پاکستان هم د سردار داودخان په څېر له هغه سره چلند وکړ.

همدا لامل وه چې اتمر له پاکستانی جنرال عامر سره د (sop) تړون لاسلیک کړ چې له صفري نقطې نه سل متره شاته تاسیسات جوړوي.

دډیورنډ له قوله ، په ۱۹۰۵ کال د یوې سرچینې له مخې چې یو ناڅرګنده لاسوند دی ویل شویدي چې هغه امیرحبیب الله ته ویلي ول چې له مرزي یا صفري برخې نه ۸ کیلومتر لرې تاسیسات باید جوړ شي.

امریکا او کاناډا هم خپل منځې دا ډول ستونزې لري خو د یوه مدیریت له مخې کنترول کړیدي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځېر و لولئ